# خرد برد او ملي بګهت



دا دوه لفظونـه يـا فقـرې څـومره صدابهار وجودونه لري، په هېڅ وخت او څيز زمانه کۀ څوک د تندې مري او کۀ د لوږې مري، دې دوؤ فقرو ته داسې زمکه په ګوتو ورغلې ده، چې نه يې د تندې غم شته او نه د لـوږې اوبه ورتـه لکـه د غـرۀ د چينـو صفا رنـې لکـه د اوښکو ورسېږي او سَرَه ورتـه ډېرانې رسي او په وجود يې تل بهار وي.

دلته کومه اداره ده، چې خرد برد او ملي بګهت پکښې په عروج کښې نۀ دے، د عروج سره په زوال هم خلق يقين لري، خو اوس لکه د زوال دغه ټکے په دغسې هره اداره کښې ډېر زوال پذير شوے دے، بلکې مرګونے شـوے دے، بيمـار دے او قريـب المرګ دے.

پخوا به خلقو حسب توفيق خربرد کوو، اوس د توفيق نه بهر کوي. پخوا به خلقو د کمې تنخوا د شکايت ختمولـو دپاره لږ غونډې خردبرد وکړو، اوس د لکونو،کروړونو او اربونو خردبرد کوي.

نن د ۱۱ مئ په اخبارونو کښې خبر دے، چې د غنمو په خردبرد کښې قومي احتساب بيـرو د ډسټرکټ کنټرولر دپاره ۲ ورځې ريمانډ حاصل کړو، د هغې تفصيل دا دے، د خيبر پښتونخوا فوډ ډائريکټر پـه ۲۰۱۰ء کښـې د ډي آئـي خـان نـه د اضاخېلو دپاره ۱۲۹۷۰ ميټرک ټن غنم د اتهارټي لېټر سره رااوچت کړل، خو اضاخېلو تـه ۹۲۷۴ مېټرک ټن ورسېدل، يعنې د ملي بګهت په وجه ۳۲۹۲ مېټرک ټـن غـنم لاړۀ، رالـه د پښـتو ژبـې ويونکي په لاړه راله پوهېږي خو بيا هم وضاحت به وکړو چې يعنې سر يې وخوړو او خزانې تـه تقريباً ۷ کـروړ ۸۲ لاکـه ۷۰ زره روپۍ نقصـان ورسـېدو، قومي احتساب بيرو ته شايد چې دوه کاله پس پته ولګېده.

خبر چاپ شو او خور شو، ريمانډ حاصل کړے شو خو دا پته به هيچا ته ونۀ لګي چې مخکښې څۀ وشو، د خرد برد او ملي بګهت فضل به هم هغسې صدابهار وي، کنه څۀ نه څۀ سونډې مونډې به په دې هم ولګي، خبره د رسايۍ ده او خدائے دې وکړي چې پـه دې رسـايۍ کښـې کوتـاهي وشـي، ګنې د فـوډ پيسـې خپلې دي او کۀ د دغې کوهي ختمه په دغه کوهي ولګېده نو بيا به مونږ د يو بل متل اثره واخلو چې څۀ اړ شو څۀ ګړ شو، جرنده دې د پلار وه څۀ!!